عبدالباری جهانی ۲۰۱۹/۱۲/۲۳

# د انګرېزي استعمار او روسي امپراطورۍ په مقابل کي د امير شيرعلي خان او سيد جمال الدين افغاني دريځونه

## دريمه برخه

لارډ رابرټس، چي د لارډ لیټن د توندروي پالیسۍ طرفدار وو، او د افغانستان او انګلیس په دوهم جنګ کي يې ډير عمده رول درلود، دې موضوع ته داسي رنګ ورکوي چي ګواکي "امیر شېرعلی خان د خپل صدراعظم د وفات د خبر د اورېدلو سره خپل اعصاب له لاسه ورکړل او د لېونتوب سرحد ته ورسیدی او د برتانيي حکومت ته يې ګواښونه پیل کړل. ده اعلان وکړ چي د انګريزانو سره موافقي ته رسېدل ممکن نه دي او ده ته له جنګ نه پرته بله لاره پاته نه ده. ده به ویل چي اویا میلیونه روپۍ لري او په هره یوه به انګریزان پر سرونو وولي. امیر وروسته د برتانيي پر ضد د جهاد اعلان وکړRoberts"  ص ص ۳۳۵-۳۳۶

البته د اميرشېرعلي خان له هغه وروستي نسبتا مفصل ليک څخه، چي پخپله لارډ رابرټس په خپل کتاب کي رانقل کړی دی، چي وايسرا ته يې لیږلی دی، په څرګنده ښکاري چي اميرشېرعلي خان، د یوه هوښیار پاچا په حیث، چي خپل او د برتانيي زور ورته معلوم وو، تر وروستي سرحده د برتانيي له دښمنی او جنګ څخه ځان ژغوره او له هغوی سره يې د دوستی د دوام هیله کوله. امير په هغه لیک کي ليکلي دي چي زه په صادقانه توګه او د زړه له کومي درته وايم چي زموږ حکومت به تر ابده، او لکه د تل په څېر، د دواړو حکومتونو ترمنځ دوستانه اړېکي وساتي او د برتانيي د حکومت په مقابل کي هيڅ ډول خصمانه احساس نه لري او نه به مخالفت ورسره وکړي.

اميرشېرعلي خان په خپل هغه لیک کي د وايسرا د وروستي ليک هغي برخي ته اشاره کړې ده چي ګواکي امير له بده نيته او د دښمنی په وجه د انګريزانو هيات ته، کابل ته د ورتللو، اجازه نه ده ورکړې. اميرشېرعلي خان وايي چي که يې د برتانيي د حکومت هيات ته له هغه زيات شمېر ورسره عسکرو سره کابل ته د ورتللو اجازه ورکړې وای نو د افغانستان خلکو به دا پر خپل استقلال باندي تېری بللی وای او زموږ ترمنځ اوسنی دوستی ته به يې تاوان رسولی وای. اميرشېرعلي خان ليکي چي که چیري د برتانيي حکومت يو هيات له شلو يا دېرشوتنو سره، لکه د روسانو له هيات سره چي ملګري ول، را واستوي، موږ به يې هرکلی وکړو او هيڅ وخت به مخالفت ورسره ونه کړو. هغه کتاب ص ۳۵۲-۳۵۳

البته وایسرا خپلو هغو بېشرمانه تهدیدونو ته چي د پښتني قبایلو په برخه کي یې امیر ته کوي دوستانه پېشنهادونه وایي. وایسرا په خپل یوه وروستي لیک کي امیر ته لیکلي دي چي که هغو قبایلو ته چي د انګریزانو هیات ته یې لاربنودنه کړې ده کوم تاوان ورسېږي نو مسولیت به یې د امیر پر غاړه وي او امیر به مجبور وي چي هغوی ته د ټول رسېدلي تاوان جریمه ورکړي او که هر وخت امیر دغو قبایلو ته د تاوان رسولو خیال وکړي نو د برتانیې حکومت به د هغوی ساتنه وکړي.

وایسرا دغه راز له امیر شېرعلي خان څخه غواړي چي خپل زوی سردارمحمدیعقوب خان له بنده خوشي کړي او هند ته یې واستوي، کنه نو د دواړو هیوادونو ترمنځ دوستی ته صدمه رسېږي. وایسرا د افغانستان په داخلي چارو کي دا بېشرمانه مداخله د دې هیواد استقلال ته تهدید نه بولي او لا هم د افغانستان په چارو کي د بېطرفی او له دې هیواد سره د دوستی ادعاوی کوي. امیرشېرعلي خان په خپل وروستي لیک کي دې دواړو موضوعاتو ته اشاره کړې او له وایسرا څخه یې دوستانه ګیله کړې ده. هغه کتاب ص ۳۵۲

د ۱۸۷۷ کال د اګست پر څوارلسمه لارلیټن امیر ته د خپل استازي نواب غلام حسین خان په لاس یو لیک واستاوه او په هغه کی یې لیکلي وه چي د سرنیویل چمبرلین په مشری یو هیات به کابل ته درسي او پر مهمو او عاجلو موضوعاتو به خبري درسره وکړي. د اګست پر اووه لسمه د امیر ګران زوی ولیعهد شهزاده عبدالله جان د شپاړسو کالو په عمر وفات سو او لارډ لیټن، د امیر په دغسي غمګین حالت کي، د هیات لېږل یو څه وځنډول. د سپتمبر په میاشت کي یې امیر ته د تهدیدونکو کلماتو څخه یو ډک لیک واستاوه او په هغه کي یې لیکلي وه چي د هیات په کارکي ځنډ او یا مخنیوی به خصمانه عمل وګڼل سي. په داسي حال کي چي د روسانو هیات د اګست پر پنځه ویشتمه له کابل څخه وتلی وو او وایسرا ته د هیڅ ډول تلوار کولو دلیل پاته نه وو او له بلي خوا نیویل چمبرلین له پېښور څخه وایسرا ته رپوټ ورکړی وو چي امیر د هیات د منلو سره هیڅ مخالفت نه لري او یوازینی ګیله یې د وایسرا د تهدیدونکو او تقریبا توهینونکو کلماتو له استعمال څخه ده. امیر ویل داسي ښکاري لکه دا هیات چي د افغانستان خاوري ته په زور داخلېږي؛ زه په دغه توګه د هیات له راتلو سره موافقه نه سم کولای ؛او چي زما سرحدی ساتونکو او افسرانو ته زما هدایت نه وي رسېدلی هغوی به څرنګه هیات ته د تېرېدلو اجازه ورکړي، د دې معنی خو دا ده چي دا هیات غواړي ما په لوی لاس بې آبه کړي. امیر لیکلي وه چي زه د پخوا په څېر ستاسي دوست یم او هیڅ ډول دښمني نه درسره لرم... یوه ورځ وروسته د برتانیې استازي له کابل څخه رپوټ ورکړ چي امیر سوګند یاد کړ چي له انګرېزانو سره هیڅ ډول مخالفت نه لري؛ هغه به د هیات د منلو لپاره سرحد ته یو هیات ولېږي او که هیات، په زور، د افغانستان خاوري ته د داخلېدلو هڅه ونه کړي نو هیڅ مخالفت به ورسره ونه کړي. او که په زور داخلېږي نو دی به ځکه اجازه ورنه کړی چي دا د ده شخصیت ته سپکاوی دی. امیر لیکلي وه چي د ده په باب له کابل څخه غلط رپوټونه ورکړه سوي دي. ده د روسانو هیات ته له سره بلنه نه ده ورکړې او که د انګریزانو هیات کابل ته راسي نو ټولي غلط فهمی به لیري سي. وایسرا لارد لیټن د امیر دې ټولو خبرو ته په یوه ټلګراف جواب ورکړ او ورته ویلي یې وه چي دا خبري په وضع کي هیڅ تغیر نه سي راوستلای او د سرلیوین چمبرلین هیات به د تقسیم اوقات سره سم د افغانستان خاوري ته داخلېږي. Duke ص ص ۵۰۴-۵۰۵

ډوک آف ارګایل د افغانستان او په خاصه توګه د امیر شېرعلي خان په مقابل کي د انګریز د حکومت او په تېره بیا د ګورنرجنرال لارد لیټن د غیرعادلانه سلوک په باب لیکي" زه اعتراف کوم چي دا جملي د احساساتو د څرګندولو پرته نه سم لیکلای. په دې جملو کي داسي خبري او اعمال قید سوی دي چي زموږ هیواد ته یې یوه نه هېرېدونکې رسوایي ور په برخه کړې ده. تاریخ د داسي زورورو پاچاهانو او حکومتونو له اعلامیو او اعلانونو څخه ډک دی چي غوښتل یې په دروغو او ناحقه پلمو د کمزورو هیوادونو حقوق پایمال کړي او پر هغوی باندي خپلي حملي رېښتوني او په حقه وښیي. زه ګومان نه کوم چي په دې تولو اعلامیو کي به دونه دروغ، بې عدالتي او بېځایه تورونه پیدا کړل سي لکه د برتانیي حکومت چي د کابل پر امیر باندي ولګول.

زه دا خبره تکراروم چي موږ په افغانستان کي نه د روسیې او نه د کوم بل هیواد نفوذ زغملای سو او دا هم منم چي د برتانیې حکومت دا نه سوای زغملای چي د کابل امیر دي روسي هیات ته د ورتلو اجازه ورکړي او د برتانیې هیات دي خپلي خاوري ته پرې نه ږدي. مګر د برتانیې حکومت باید دې حقیقت ته متوجه وي چي د روسانو هیات د دوی د اعمالو په نتیجه کي کابل ته راغی. د بلي خوا، باید دې حقیقت ته هم توجه وکړي چي امیر شېرعلي د وایسرا هیات نه رداوه بلکه ویل یې چي د برتانیې ل هیات سره د ده شخصي لیدنه به غلط فهمي لیري کړي. امیر فقط دونه غوښتل چي د برتانیې هیات باید د ده د افسرانو او خلکو په مخ کي پر ده باندي تحمیل نه سي. دوی په دې پوهېدل چي هغه د هند د حکومت له فیصلې څخه شکایت نه کاوه بلکه ده او د ده افسرانو ته یې د انګرېزانو د لاپو شاپو څخه ډکو لیکونو او پیغامونو څخه، چي حتی د ده د زوی د ماتم په شپو کي یې هم ورته رالېږل، شکایت کاوه. دوی پوهېدل چي که په دنیا کي رېښتونی غم موجود وي هغه به د سردار عبدالله جان د مړیني له امله د امیرشېرعلي خان ماتم وي، چي تر ټولي دنیا ورباندي ګران وو او د ژوند ټول امیدونه یې په هغه پوري تړلي ول، خو د برتانوي هند حکومت لږترلږه د دغه لوی غم سرېدلو ته هم حوصله ونه کړه، او پر امیر باندي یې په داسي حال کي فشار اچاوه چي هغه د خپل ګران زوی د ماتم پر کمبله ناست وو... زموږ حکومت په ختیځه اروپا کي بې عدالتی او ظلمونه کړي دي، مګر که په هند کي د هغه بې عدالتیو ته وګورو نو په ختیځه اروپا کي سوي بې عدالتی د شیخ او زاهد عملونه ورته ښکاري. زه په پوره زړه دا پیش بیني کولای سم چي هغه وخت راتلونکی دی چي هر انګرېز وګړی چي په پېښور کي د افغانستان د استازي په مقابل کي د لارډ لیټن جوابونه ولولي نو د شرم او خجالت احساس به کوي " هغه کتاب ص ۵۱۴-۵۱۶

د ۱۸۷۸ کال د ډسمبر په میاشت کي، چي د افغان او انګلیس دوهم جنګ پیل سوی وو، د انګلستان پارلمان یوې جرګه ګی ته وظیفه ورکړه چي د دې جنګ د علتونو په باب رپوټونه برابر کړي. د پارلمان دغي جرګه ګی د افغانستان د جنګ علتونه Causes of the Afghan War په نوم د رپوټونو یو بشپړ کتاب ترتیب کړ. د کتاب په مقدمه کي یې ولیکل: " ... دا جنګ ډېر ناڅاپه پیل سو. نه یوازي زموږ حکومت له پارلمان سره سلامشوره ونه کړه؛ نه یوازي یې د هغې پالیسی په باب چي د جنګ د پیل کېدلو سبب سوه اطلاع ورنه کړه بلکه کله چي په دې باره کي پوښتني رامنځته سوې نو داسي جوابونه ورکړه سول چي مطلب یې قصدي غولول وه . تر ټولو هوښیار او ماهر مقامات یې وغولول او د هغوی په وسیله یې ټول ملت ګمراه کړ. د ۱۸۷۸ کال د آګسټ په میاشت کي پارلمان په داسي حال کي تعطیل سو چي هر څوک په دې پوهېدل چي دا جنګ پیل کېدونکی دی. ځینو ورځپاڼو ته ، چي د مرکزي اسیا په باب خپروني کوي، وعده ورکړه سوې وه چي په دې باره کي به

معلومات ورکول کیږی او ورته ویل سوي وه چي د هغو معلوماتو د خپرولو لپاره تیار اوسي. مګر د افغانستان په باره کي مهم اطلاعات داسي پټ سول چي په دې باره کي هیڅ ورځپاڼي ته هیڅ معلومات ورنه کړه سول ... د کتاب د مقدمي په پای کي راغلي دي...موږ په دې عقیده یو چي دا جنګ غیر عادلانه او په دې کي شک نسته چي بې عدالتي ژر یا وروسته تباهي راولي. حتی که یې عادلانه هم وبولو نو نامناسبه دی او هغه پالیسي چي د هغې په اساس دغه جنګ پیل سو غیر معقوله ده او په هند کي به زموږ واکمنی ته خطر پیښ کړي. موږ ادعا کوو چي دغه پالیسي نوې ده او په ۱۸۷۵ کال کي په تلوار، پټه او بې سلامشورې پیل سوه... موږ په دې عقیده یو چي دا د هر وطنپال وظیفه ده چي خپل هیوا دغه راز غیرعادلانه او تلواري او بې سنجشه اعمالو له نتیجو څخه وژغوري او پر دې خبري ټینګار وکړي چي موږ باید د روسانو په څېر د مځکو د لاندي کولو د تباه کونکي پالیسی لاره غوره نه کړو"

ګورنرجنرال لارډ لیټن پر افغانستان باندي د حملي کولو لپاره د پلمي د پیدا کولو او د دې جنګ د پیل کولو د جواز د ترلاسه کولو لپاره هر ډول دروغ وویل او بالاخره یې دا غیر عادلانه جنګ پیل کړ. نه یوازي یې ده ته ګټه ونه کړه بلکه خپل هیواد او حکومت ته یې تاریخي ناکامي او شرم پرېښود. لومړی خو سړی وګوري چي لارډ لیټن پر افغانستان باندي د حملي کولو د پلمي جوړولو لپاره څومره غیرعادلانه لاره غوره کړې ده. یا د برتانیې هیات ته اجازه ورکړه چي افغانستان ته داخل سي او یا به جنګ کوو. زه ګومان کوم چي د نړۍ په تاریخ کي به د جنګ لپاره دومره بې ځایه او ظالمانه پلمه ډېره لږه پیښه سوې وي. البته د پارلمان په رپوټونو کي راغلي دي امیر، د وایسرا لارډ لیټن د محلي استازي، نواب غلام حسین خان په لاس یو لیک استولی او په هغه کي یې د لارډ لیټن دا غوښتنه هم په ډېره عاجزي منلې ده. ځکه چي امیر پوهېدي چي لارډ لیټن د جنګ فیصله کړې ده او له هغه سره د ده زور برابر نه دی. د پارلمان په رپوټونو یا د افغانستان د جنګ علتونو په کتاب کي راغلي دي"نواب غلام حسین خان د امیر له وزیر شاه محمد سره تر کتلو وروسته یو بل لیک ورسره راوړ چي په هغه کي شاه محمد سوګند یاد کړی وو چي امیر به د غلط فهمی د لیري کولو لپاره پخپله د برتانیې هیات افغانستان ته ور وبولي او هر کلی به یې وکړي، خو په دې شرط چي د برتانیې حکومت دغه هیات په زور ورباندي قبول نه کړي او هیات یو څو ورځي په پېښور کي پاته سي. ځکه چي که دا هیات د ده له خوښي پرته افغانستان ته داخل سي نو دی به د خپلو خلکو په مخ کي سپک سي. ده وویل چي د ده او د انګرېزانو تر منځ دغه غلط فهمي د خبرلیکونکو د غلطو او له شیطانته ډکو لیکنو له امله پیښه سوې ده. امیر ویلي وه چي د روسیې هیات د ده په غوښتنه افغانستان ته نه دی راغلی بلکه دی هغه وخت په خبر سو چي هغوی د آمو تر سیند را اوښتي وه. ده ویلي وه چي روسان هسي د ګاونډیانو په حیث راغلي دي او دا رپوټونه یې رد کړي وه چي روسان ګواکي د کوم بل مطلب لپاره راغلي دي. ده لیکلي وه چي له برتانوي هیات سره مذاکرات به تولي لانجي حل کړي... ده لیکلي وه چي د برتانیې د هیات د منلو لپاره به عالي رتبه استازي واستوي او پخپله به په افغانستان کي د هغوی د سلامت ساتلو ذمه ووهي او دلته به یې په بشپړ عزت مېلمه پالنه وکړي..." هغه کتاب ص ۱۷۶-۷۷

له دې څخه وروسته، امیرشېرعلي خان، وایسرا لیټن ته، یو بل لیک په دومره عاجزانه کلماتو لېږلی دی چي سړی فکر نه کوي دا به د امیر خپل لیک وي. خو امیر شېرعلي خان پوهېدی چي پر هیواد باندي یې بلا نازلیږي

او دی مجبور دی چي په هره توګه کيري مخه يې ونيسي. په وروستي ليک کي يې ليکلي دي" د هغه مصيبت له امله چي د خدای د فرمان په وجه راباندي نازل سو( مطلب يې د خپل کشر زوی او وليعهد سردار عبدالله جان وفات دی ج) زما څخه يې لار ګودر ورک کړي دي.ځکه نو زما هيله دا ده چي د برتانيې د حکومت استازي يو څه صبر وکړي او دا به ډېره ښه او مناسبه لاره وي. تاسو جناب وګوری چي زما له مامورينو سره څومره سخت او سپک سلوک سوی دی. په دوستي او اتحاد کي خو څوک داسي نه کوي. په هر صورت زما د حکومت مامورين به ستاسي د افسرانو له لوري د سپک سلوک په مقابل کي هيڅ ډول کينه او دښمني په زړونو کي ونه ساتي... نواب غلام حسين خان، چي تاسي ته زما ليک دروړي، د برتانيې د حکومت د هدايت په اساس، د رخصت غوښتنه وکړه او موږ هم اجازه ورکړه." هغه کتاب ص ص ۱۷۹-۱۸۰

د نولسمي پېړۍ په وروستيو لسيزو کي د انګلستان د پارلمان غړي، سياستمدار او ژورناليسټ هينري لابوچيHenry Labouched برتانيې پر خارجي پاليسي باندي د تبصرې په ترڅ کي داسي جانانه اعتراف کړی دی چي په تاريخ کي په ثبتېدلو ارزي. هغه وايي" موږ بې له استثناء د نړۍ د تاريخ تر ټولو لوی داړه ماران او رهزنان يو. موږ تر نورو هيوادونو ځکه لا بدتر يو چي موږ منافقان هم يو؛ ځکه چي موږ هر وخت د خلکو شته منۍ لوټو او تل دا خبره کوو چي دا عمل د خلکو د خير ښېګڼي لپاره کوو" Scanlon P ۱۳۷

د افغان او انګليس دوهم جنګ، د لومړي جنګ په څېر، د همدغو داړه ماريو، لوټماريو او منافقتونو په سلسله کي يو غير عادلانه تحميل سوې جګړه وه. جنرال ستوليتوف افغانستان ته د انګريزي هيات د لېږل کېدلو د خبر د اورېدلو سره سم د افغانستان څخه ووت او لارډ لېټن پخپله ليکي چي په اروپا کي د سولي وروستی موافقي زموږ لاسونه ازاد کړل او امير نور نه سي کولای چي يا موږ ته ستونزي پيښي کړي او يا له روسيې څخه د مرستي طمع ورته پيدا سي. دی وايي زه په دې عقيده يم چي که امير زموږ سره دښمني راواخلي يوه هفته په کابل کي ژوند نه سي کولای او پر هغه باندي د فشار اچولو لپاره تر اوسنيو شرايطو بل هيڅ وخت مناسب فرصت لاسته نه وو راغلی. Balfour ص ۲۵۸

په زړه پوري خبره خو دا ده چي، د ځينو اسنادو له مخي، د روسيې مرکزي حکومت د افغانستان لپاره د جنرال ستوليتوف سفارت اصلا منظور کړی نه وو، او انګرېزانو ګواکي هسي خپل ځانته خيالي بلا جوړه کړې وه. لارډ ساليزبوري لارډ اوډو رسل ته په يوه ليک کي وايي چي دا سفارت لکه چي هسي افسانه وه. کونټ شووالوف چي په برلين کي وو د دغه سفارت په باره کي يې هيڅ خبره نه وه اورېدلي او له هغه څخه وروسته چي يې درې هفتي په سينټ پيترزبورګ کي تيري کړې هم په دې سفارت خبر نه وو. کله چي ويلباډ ته ولاړ هلته يې په ورځپاڼو کي د دغه سفارت په باب خبرونه ولوستل؛ سمدستي صدراعظم ګورچاکوف ته ورغی او له هغه څخه يې پوښتنه وکړه چي روسيې کابل ته رسمي هيات لېږلی دی؟ ګورچاکوف ورته وويل چي هيڅ اطلاع نه لري . Sykes . ص ۱۰۹

افغانستان ته د جنرال ستوليتوف لېږل کېدل دومره مرموز او ضمنا بې اهميته وه چي حتی د روسيې خارجه وزير ايم ډي ګيرس په روسيه کي د برتانيې سفير لارډ لوفټس د دې پوښتني په جواب کي چي آيا روسيې کابل ته کوم هيات لېږلی دی وويل چي نه د امپراطور حکومت او نه جنرال کوفمان دغه راز کوم هيات کابل ته استولی دی. هغه کتاب ص ۱۰۷

یو نظر خو لا دادی چي جنرال ستولیتوف صرف غوښتل چي د برتانوي هند او افغانستان ترمنځ بدبیني، چي پخپله د بحران سرحد ته رسېدلي وه، نوره هم زیاته کړي. ځکه یي شېرعلي خان ته مشوره ورکړه، چي په داسي حال کي چي د روسانو هیات په کابل کي وي، د انګریزانو هیات ونه مني، ځکه چي روسیه او انګرېزان د یوه بل سخت دښمنان دي او دا په ډیپلوماتیک لحاظ ښه نه دی چي د دواړو دښمنو هیوادونو استازي په یوه وخت کي په کابل کی وي. کله چي د برتانوي هند او افغانستان تر منځ اړیکي ښه ترخه سوه، او خبره د بحران سرحد ته ورسېده نو ستولیتوف له کابل څخه ووت، ګواکي هغه ته وظیفه ورکړه سوې وه چي د افغانستان او برتانوي هند اړیکي د جنګ حالت ته ورسوي. کله چي ستولیتوف پوه سو چي ماموریت یي بشپړ کړی دی نو یو نا څاپه له کابل څخه ووت. Bilgrami ص ۱۹۱

که څه هم چي په افغانستان کي د انګرېزانو بری او پر هغه هیواد باندي د انګرېزانو د بشپړ تسلط زغمل د روسانو لپاره ګرانه خبره وه، مګر روسان مجبور ول چي دا تریخ حقیقت ومنیو ځکه چي په هیڅ صورت یي نه غوښتل چي د انګریزانو سره د افغانستان پر سر مخامخ جګړې ته ودرېږي؛ او نه یي د دې لپاره پوځي قوت درلود. ځکه نو د روسانو لپاره دا چنداني ګټوره خبره نه وه چي د امیرشېرعلي خان پرسر د انګریزانو سره مخالفت وکړي. په انګلستان کي د روسانو سلیر کونټ شووالوف لارډ سالیزبوري ته ولیکل چي« کابل ته روسی هیات په داسي حالاتو کي استول سوی وو چي د برتانيي او روسيي ترمنځ اړیکي ډیر ترخه او خراب ول. کله چي زموږ ترمنځ اړیکي بهتر سول، هیات مو بیرته را وایستی. په آینده کي به د افغانستان له حکومت سره اړیکي نه ساتو. هغه کتاب ص ۱۹۴

خو وایسرا لارډ لیټن وچي ډېري ته سر نیولی وو. هغه له افغانستان سره د جنګ کولو او د امیر شېرعلی خان د پرزولو فیصله کړې وه؛ او په دې یي ځان قانع کړی وو چي روسان غواړي د افغانستان د لاري پر هند باندي حمله وکړي نو په هره توګه چي کېږي باید په افغانستان کي د روسانو د نفوذ مخه ونیوله سي. لارډ لیټن خارجه وزیر ته پیشنهاد وکړ چی " د امیر شېرعلي خان په مقابل کي، زموږ لپاره، درې لاري موجودي دي. لومړی خو دا چي هم وډارول سي او هم یو څه ورکړه سي او په دې توګه د روسانو نفوذ د تل لپاره بې اثره کړه سي.

که دا ونه سي نو بیا له هغه سره ټولي مرستی او دوستانه اړیکي وشلول سي؛ د افغانستان پاچهي توټه توټه سي( چي زه فکر کوم په ډیره اسانی سره یي کولای سو) او د اوسني امیر پر ځای باندي داسی سړی کښېنوو چي زموږ دوست وي، زموږ ګټي وساتي او تر ډیره ځایه هر وخت موږ ته اړ وي.

که دا دواړه کاره ونه سي نو بیا زموږ د شمال لوېدیځ سرحد د ښه خوندي کولو لپاره باید دافغانستان ډیره برخه اشغال سي. دا کار لکه څرنګه چي ځیني کسان یي ډیر ګران بولي هغومره ګران هم نه دی، خو زه وایم بهتره به دا وي چي د لومړیو دوو کارونو څخه یو وسي" Balfour ص ۲۵۵

لارډ لیټن خارجه وزیر ته ولیکل چي" ستاسي د اجازې سره سم، زه پیشنهاد کوم چي کابل ته یو برتانوی هیات واستول سي. له هغه څخه مخکي باید امیر ته یو پیغام ولېږل سي چي هیات پر لاري دی او باید چي امیر یي په داسي توګه هرکلی وکړي لکه د روسانو د هیات هرکلی چي یي کړی وو. له هیات سره به یو لیک ورسره وي او امیر ته به د ټولو هغو تېرو یادونه کوي چي د دواړو هیوادونو ترمنځ د اړیکو په ارتباط یي کړی دي او برتانيي سزا نه ده ورکړي" هغه کتاب ص ۲۵۶

لارد لیتن لیکلی پیغام کابل ته واستاوه او لکه څرنګه چي انتظار یې ایستل کېدی، امیرشېرعلي خان ته یې ډېر بېځایه اخطارونه ورکړي وه. امیر شېرعلی خان، د یوه مغرور افغان په حیث، د لارډ لیتن پټکي او، بې اجازې، د افغانستان خاوري ته د انګریزانو د استازو لېږل کېدل نه سوای زغملای؛ ځکه یې نو د خیبر د درې په خوله کي خپل منصبدار فیض محمد خان ته امر وکړ چي هیڅ انګریز ته اجازه ورنه کړي چي د افغانستان خاوري ته ننوزي. فیض محمد خان هم د انګریزانو د استازي کیوناري سره ملګرو پوځیانو ته، چي وروسته به سرنیویل چمبرلین هم ورپسې وای، د افغانستان خاوري ته د ننوتلو اجازه ورنه کړه. لارډ لیتن د امیر شیرعلي خان دا حرکت د برتانیې امپراطورۍ ته سپکاوی وباله او هغه ته یې اولتیماتوم ورکړ. لارډ لیتن امیر ته لیکلي وه چي د خپل دغه عمل له کبله دي د برتانیې له امپراطورۍ څخه رسما بخښنه وغواړي. د برتانیې حکومت ته دي اجازه ورکړي چي د افغانستان په خاوره کي دایمي استازي ولري او له هغو قبایلو سره دي غرض نه کوي چي د برتانیې له هیات سره یې د لاربنوونکو وظیفه درلودلې ده.

امیر شیرعلي خان د اولتیماتوم شرایط ونه منل، او په حقیقت کي انګریزانو چنداني وخت هم ورنه کړ او د دریو خواوو یې پر افغانستان باندي یرغل پیل کړ. امیر ته د وایسرا لیک د اکتوبر پر یود ېرشمه ورسېدی او هغه ته یې د نومبر تر شلمي پوري وخت ورکړی وو. امیر د وایسرا د لیک جواب د نومبر پر نولسمه ورکړ او هغه ته د نومبر پر یوویشتمه ورسېدی او داسي ښکاري چي د وایسرا ځیني غوښتني یې ورسره منلي هم وې، مګر مخکي له هغه چي د امیر ایلچي پېښور ته ورسېږي، وایسرا ځکه پر افغانستان باندي د حملې امر ورکړ چي د ده په نزد د اولتیماتوم وخت یوه ورځ تېر سوی وو.

وایسرا پر افغانستان باندي د یرغل لپاره په هند کي تر ټولو تکړه او لایق جنرالان انتخاب کړل. لومړي ستون، د تورن جنرال رابرټس په مشرۍ د پیواړ کوتل او شترګردن د کوتل له لاري د کابل پر لور حرکت وکړ. دوهم ستون د ډګرجنرال ایس جي براون تر قوماندې لاندي، چي په درنو توپونو او وسلو سمبال وو، علی مسجد اشغال کړ او د جلال اباد پر لور یې حرکت پیل کړ. دریم ستون د ډګر جنرال ډانلډ ستیوارټ تر قوماندې لاندي د کوټې د لاري د کندهار پر لور حرکت وکړ. انګرېز مورخ ایچ جي کین لیکي چي د قواوو له ترکیب او وسلو د زیاتوالي څخه ښکارېده چي وایسرا په کابل کي د انګرېز استازي د نصبولو تر څنګ نور خیالونه او پلانونه لري. Keene Vol ۲ ص ۲۹۴-۲۹۵

نوموړی مورخ لیکي چي له بده مرغه اکثر هغه لیکونه چي په هغه وخت او یا د پوځي عملیاتو په ترڅ کي د دولتي مقاماتو ترمنځ تبادله سوي او یوه بل ته لېږل سوي دي له منځه وړل سوي دي. دی وایی که هغه لیکونه موجود وای نو موږ به د هغو پېښو په باب دقیق او هر اړخیز قضاوت کولای سوای، خو اوس مجبور یو چي په موجودو لیکونو او اطلاعاتو قناعت وکړو. هغه کتاب ص ۲۹۷

په هر صورت، امیرشېرعلي خان د تزار څخه د مرستي اخیستلو لپاره د پیټرزبورګ په نیت د مزار شریف خواته روان سو ؛سردار محمدیعقوب خان یې له بنده خوشي کړ او قدرت یې ور وسپاره. د انګرېزانو استازی سر لویس کیوناري د ۱۸۷۹ کال د جولای پر ځلېرویشتمه کابل ته ورسېدی. د هغه ډېرشان داره هرکلی وسو، مګر ایله شپږ هفتې یې تېري کړي وې چي په کابل کي د سپتمبر پر دریمه د انګرېزانو پر ضد عمومي پاڅون پیل سو او کیوناري یې د خپلو ټولو ورسره ملګرو سره وواژه او د هغه کور او مرکز یې وسوځاوه.

د روسانو لوبه او ښکاره نامردي:

امیرشېرعلي خان د خپل قدرت د لومړیو شپو ورځو څخه انګریزانو ته بدبین وو او د هغوی څخه یې د نفرت تر سرحد پوري بد راتلل؛ او دا نفرت یې تر مرګه وساتی. هغه، د یوه هوښیار امیر په حیث، د انګریزانو په زور هم خبروو او د هغوی سره یې د مخامخ کېدلو څخه ځان ژغوره. هغه، د افغانستان د اوسني جغرافیایي موقعیت په څېر، د شمال، لوېدیځ او ختیځ له لوري رقیبو او حتی دښمنو هیوادونو محاصره کړی وو. لوېدیځ لوري ته ایران د سیستان، هرات او بادغیس د لاندي کولو او د ایران په خاوره پوري د موښلولو خوبونه لیدل؛ چي هر شهزاده او سردار به یاغي یا مرور سو د ایران حکومت د خپلو شومو مقاصدو لپاره پناه ورکوله او د راتلونکو احتمالي دسیسو لپاره یې تنخوا ورته مقرروله. ختیځ لوري ته د برتانوي هند حکومت پروت وو چي د خپلو ستراتیژیکو مقاصدو لپاره یې هر وخت افغانستان قرباني کاوه. شمال ته د روسیې امپراطوری پرله پسي د مسلمانانو ښارونه او ملکونه لاندي کول او ګام په ګام د افغانستان پر لور را نیژدې کیدله. امیر لکه د ژبي پسته غوښه د دوه دېرشو غاښونو په منځ کي ګوزاره کوله.